هدایت الله هدایت ۲۰۱۱/۱۱/۲۸

# د «التحرير» ښخه بیا تر «وال ستریټه» پـوري

«مـوږ په سلو کې ۹۹ یـو!»
هغوی چې باد و کرل، نن توپانونه ربیي!




په امریکا او زیاتو  هیوادو کې د سرمایه داري نظام بحران، توده یي  اعتراضونه، ولسي جنبشونه او بغاوتونه را پارولي دي. د کال په جریان کې په متحده ایالاتو کې مالي بحران، بودجوي تضیقات، د دولتي کارمندانو خراب حالت، شدیده بیکاري، د نرخو لوړوالی، لوږه او د جګړو ښخه کرکه، د زیاتو مظاهرو سبب ګرځیدلی وو، خو د سپتمبر پر ۱۷ مه  د وال ستریټ  د اشغال (Occupy Wall Street) جنبش  چې دادی دری میاشتي کیږي  دوام لري، دغه ولسي  پاڅون ته یي  بل شاني بڼه ورکړیده. جنبش چې په خورا چټکیا سره یي د امریکا ټولو ښارونه تسخیر کړل  او اوس یي د نړۍ داتیا هیوادو  و  ۱۵۰۰ ښارو ته ځان غزولی دی. خلک د سرمایه داري نظام د مظالمو د محکومولو په خاطر  د سرمایداری د بازر او بورس  پر معابدو باندي اعتراضي ګزارونه کوی او خپل فریادونه او غوښتني  یي بازارو ته را ایستلي دي

ددي خود جوشه جنبش ځانګړتیا په دی کي ده چي هغوی د کوم خاص قانون او یا ددولت د کوم ځانګړي پریکړي د محکومولو په خاطر نه دی را پورته سوی، بلکه دغه جنبش پخپله د ټول د سرمایه داري نظام او ددي نظام  ټول سیاسي او اقتصادي ظالمانه روشونه په نښه کړي  دي.

د دغه توده ای  اعتراض کونکو شعارونه لکه  «وال ستریټ دولت اشغال کړی دئ »، «موږ وال ستریټ قبضه کوو»، «دیموکراسي نه زر سالاري»، «شرکتونه، خلک نه دي»، «موږ په سلو کې ۹۹ یو» او داسي نور بنیادي شعارونه د سرمایه داري نظام بیخ و لړزاوه.  د وال ستریټ دجنبش مخکښان واي موږ ځکه وال ستریټ  اشغال کړه چي « د۹۹ فیصده خلکو» دمشکلاتو اصلي عاملین په همدې ځای کي اوسي کوم چي د اقتصادي اهرمو اصلي قدرت یي په لاس کي دی. دغه  جنبش  د مارکسیستي یا کمونیستي ایډیاوو  ادعا او اجندا نلري هغوی زیاتره  د  سرمایه داری سیستم  د ثروت پر شهوت باندي حمله کوي. دوی وایي چي هغوی د قاهري د التحریر د پاڅون ښخه  الهام اخیستی دئ کوم چي د دیکتاتور حسني مبارک فرعوني رژیم یي را نسکوره کړ.

د «نیویارک  ښار  د اشغال په اعلامیه» کي چي «د وال ستریټ د اشغال»  د جنبش د فعالانو لخوا لیکل سوي ده په ډیر وضاحت سره  ددي جنبش راتلونکی روښانه وي. هغوی لیکي  «ټول هغه کسان چي احساس کوي د خو ملتیزه شرکتو لخوا فریب ور کول سوی دئ، موږ د هغوی ملګري یو. موږ لکه یو موټي خلک ژوندي واقعیتونه وینو: د بشریت راتلونکي د ټولو اعضاوو همکاری ته ضروري لري او هغه اهمه ګني؛ د یوه دیموکراتیک دولت قدرت په خلکو پوري تړلی دئ، خو شرکتونه د خلکو او د ځمکي د کري د استثمار د پاره د هیچا ښخه اجازه نه غواړي. داسي واقعي دیموکراسي به هیڅکله هم و جود ونلري چي د هغه د بقا شرطونه دي د «یو فیصد» اقتصادي قدرتو لخوا ډیکټه سي. موږ په داسي شرایطو کي تاسو ته مخ را اړه وو او وایو چي نن دولتونه د څو ملتیزه شرکتو په ولکه کي را غلي دي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

هغوی سود ته تر انسانانو زیات ارجحیت ورکوي، هغوی ګټي تر عدالت بهتره ګڼي او تر برابرۍ د انسانانو و غلامي ته زیات اولویت ورکوي.

ښایي په سرمایه داري نړۍ کي به تر دې وروستي مالي بحرانو دمخه به لږو کسانو داسي اټکل کاوه چي د امریکا خلک دي چي ځانونه د نړۍ د ډیموکراسۍ تر ټولو بهترینه مدعیان او علمبرداران ګڼي، د خپلو غوښتونو د تحقق لپاره به مجبوره کیږي خپل اعتراضونه د خپل هیواد د سرمایه دارۍ په مراکزوکي را پورته کړي. دامریکا عام خلک د خورا ناوړه اقتصادي شرایطو لاندي په تدریج سره اوس دې نتیجې ته رسیدلي دي چي د فریب کاره او فاسده دولتمردانو د ناکاره سیاست په وجهه نه یوازي پخپله دوی تر شدید فشار لاندي دي، بلکه په راتلونکي کي دهغوی اولادونه هم په امان کي نسي پاته کېدلای. همدغه مسئله او د اقتصادي بحران دوام ددې موجبه و ګرځېدله چي په نهایت کي ددې هیواد مخکښه سیاسي فعالان د وال سټریټ د بورس د تعمیر مخته چي د امریکا د لویو سرمایه دارانو دمالي قدرت سمبول دئ او امریکایان هغوی ته «یو فیصد» وایي را غونډ او د « وال سټریټ قبضه کړی» تر شعار لاندي په همدې نامه یو بې نظیره ولسي جنبش ته شکل ورکړی. دغه جنبش د نورو ولسي ګروپو په ملاتړ سره د پولیسو د ظالمانه خشونت او زور زیاتي سره سره چي پخپله امریکایان یې یو نا انساني او د قانون خلاف غیر ډیموکراټیک عمل ګڼي، هره ورځ خپله عرصه پراخوي او په ډېره چټکتیا سره د خپلو غوښتنو ابعاد و ټولي امریکایي ښارو او اروپایي هیوادو ته غزوي.

د امریکا دغه کوچنوټی یو فیصدي میلیاردر اقلیت چي د امریکا د دولت په ټولو قانوني، اجراییوي، قضایي او مالي عرصو کي یې منګولي ښخي کړي دي ،په زیاتره اموراتو کي یې د امریکا د ولس د ډیموکراټیکو لاسوهنو مخه نیولې ده. دغه لږ شمېره اقلیت چي ټوله اقتصادي او مالي اهرمونه یې په ولکه کي رواستي دي د غول پیکره رسنیو د عصري اړیکو او فعالیتو انحصار او مالکیت یې هم په لاس کي نیولی دی. دغه رسنۍ چي زیاتره د یهودي میلیاردرانو او څوملتیزه شرکتو او بانک لرونکو ملکیت دئ د خپلو میلیاردرانولیډرانو دیدګاوي او نظریات تبلیغوي او د خپلو ګټو پر بنیاد خبرونه او برنامې جوړوي. دوی ددغه رسنیو په کارولو سره نه یوازي د امریکا د ولس سیاسي، فرهنګي او اجتماعي اولوویتونه ټاکي او هغه ته لوری ورکوي، بلکه د خپلي خوښي د ژوندانه لاره هم د ټولني پر مطلق اکثریت یعني پر ۹۹ فیصده خلکو باندي تحمیلوي.

د امریکا مشهوره مستنده فلم جوړونکی مایکل مور(Michael Moor) د سي ان ان ټلویزون سره د وال سټریټ د تسخیر د جنبش په هکله ویلي دي چي: په اوسنی وخت کي داچي موږ ولي وال سټریټ ته مخه کړه او په کانګریس یا واشنګټن غرض نلرو او هغه نه تسخیروو علت یې دادی چي د کانګرس پرسونل دیوه سره د وال سټریټ د لابیانو مستخدمین دي، دهغوی بودجه او معاشونه د وال سټریټ د میلیاردرانو لخوا تأمینیږي. په دې توګه و کنګرې ته انتخاب سوي کسان د «وال سټریټ» او «کې سټریټ» کارکونکي دي. «کې سټریټ» د واشنګټن د لابیانو بل مشهوره قلمرو دئ چي د وال سټریټ د لابیانو قوي بازو ګڼل کیږي. هغه وایي همدا وجه ده چي موږ اوس نور سټرې سوي یو چي یوځل بیا و مستخدمینو ته مخه کړو. موږ پوهیږو چي مشکل چیري دی، ځکه نو موږ دلته دغي پراخي شبکې ته خپل اعتراضونه راجع کړي دي. اصلي مشکل د امریکا کاپیټالیستي نظام دی او دغه څه باید د نن ورځي د غوښتونو او د هغه د بنیادو نو سره سم بیرته د سره تعریف سي. مایکل مور وایي: اعتراض کوونکي غواړي امریکا ته ډیموکراسي راولي. ډیموکراسي داسي نده چي موږ و یوه سیاستپوه ته رایه ورکړو، او پریږدو چي هر څه کوي و یې کړي او وروسته بیا داسي وانګېرو چي ګویا موږ ډیموکراسي لرو. زموږ له نظره ډیموکراسي یعني دا چي موږ د خبرو د حق په درلودلو سره موږ دا وښیو چي دا موږ یو چي وایو او پرېکړه کوو زموږ دغه اقتصادي نظام څرنګه باید اداره سي . هغوی نسي کولای زموږ څخه استفاده یا سوء استفاده وکړي.

دغه شعارونه چي وایي «موږ په سلو کي ۹۹ یو، او حاکمه طبقه یوازي په سلو کي یوه ده» په واقعیت کي د «لیبرالیزم» او د امریکایي « ډیموکراسۍ» دپاره د ذلت او بې آبۍ معنی ورکوي او د هغوی د زوال ښکارندویه ده. خلک غواړي په دې شعارو سره دغه خبره په ډاګه کړي چي په امریکا او غرب کي ډیموکراسي یو فریبکارانه بدعت دی. خلک نن سبا دغه عوامفریبي په ورځني ژوند کي پر خپله غوښه او پوست باندي لمسوي؛ یعني د ډیموکراسۍ په نامه دیوه کوچني اقلیت حاکمیت د ټولني پر ۹۹ فیصده وګړو باندي، په داسي یوه حالت کي دا خلک دي چي د ډیموکراسۍ د عواقبو څخه سخت په تشویش کي دي.

خو داچي امریکایي ډیموکراسي او پر هغه باندي د میلیاردرانو حاکمیت څرنګه د اکثریت و دغه غوښتنو ته ځواب ورکوي ، هغوی لا د اوسه څخه زندانونه په مظاهر چیانو ډک کړي، پولیسي مرچک پاشان او د برقي ډنډو وهونکي یې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پر هغوی را مات کړي دي، وهل او ډبول یې شروع کړی دی، خبرونه او غوښتني یې په رسنیو کي نه منعکسوي، د خلکو پر ورځني مشکلاتو او اقتصادي ناخوالو سترګي پټوي او هغه ته ګوته نه نیسي.

چي څوک لږ شاته ولاړ سي نو د امریکا او غرب لخوا ډیموکراسي، د بیان آزادي، بشري حقوق، د ټروریزم سره مبارزه... او داسي نور د ا هغه وسیلې او د امریکا او سرمایه دارۍ د نظام غوړ او جذاب شعارونه وه چي د خپلو ګټو په خاطر او د ولسونو د فکري انحراف او د ملتونو د استعمالولو او د هغوی د ثروتونو د لوټولو په هدف یې کارول. دغه شعارونه چي په ظاهره ښه ایسیدل خو په عمل کي یې اوس خپل ارزشونه د لاسه ورکړي او په ماهیت یې ولسونه پوه سوي دي چي ټول یو فریب کارانه بدعت دی .

په نوي یمه لسیزه کي یعني دپخواني شوروي اتحاد د شو په شو کیدو را وروسته نړۍ واله عرصه د امریکا دسرمایه داري نظام چي د دې هیواد د ټول نفوس د یوفیصدي میلیاردرانو، څوملتیزه شرکتونو، بانک لرونکو د لویو کارخانو او د وسلو د جوړولو د فابریکو د خاوندانو په ولکه کي راغلی وو، هغوی ته یکړه پاتي سو او داسي روان سول چي و ښیي امریکایي اوغربي ژوند کوم چي دکاپیټالیستي سیسټم مرام دئ، هغه د ژوندانه یوه تر ټولو ښه لاره او د ډیموکراسۍ لیبراله نظام د حکومت دارۍ او د بشر د سعادت د پاره یوه بهترینه شیوه ده.

امریکاد نړۍ د هژمونۍ د په لاس کي نیولو په خاطر د «نوي نړۍ وال نظم» او د امریکایي ډوله ډیموکراسۍ د تحقق شعار خاصتاً د دریمي نړۍ په هیوادو کي را پورته کړ. دهغه څخه یې هدف داوو چي که په زور وي اوکه د رنګارنګه ګلابي او نارنجي «انقلابو» دلاري د نورو هیوادو سرشاره طبیعي زیرمي قبضه او په خپله ولکه کي راولي. دغي ستړا تیژۍ په نهایت کي امریکا ډیوالي او خپل ولس یې د مختلفو ناخوالو سره مخامخ کړ ، خو په عوض کي د څوملتیزه سرمایه دارانو هستي لا نوره هم څو چنده زیاته کړل.

اوس چي د وال سټریټ ضد جنبش مخکښان او عام ولس را پاڅیدلي او فریادونه را باسي چي دا یو فیصده سرمایداران په موږ ۹۹ فیصده خلکو څه کوی؟ دغه عام ولس ددې نظام تیوریک او ناکاره آمده اړخ، او دهغه غیر عادلانه او ناډیموکراټیک چلند تر خورا جدي پوښتني لاندي راولي . په واقعیت کي د امریکا ننی بحران چي ولسي پاڅونو ته لاره هواروي که د یوې خوا مالي او اقتصادي ډېوالیتوب او د ثروتمندانو او غریبانو تر منځ یوه ژوره طبقاتي فاصله ده، خو د بلي خوا د عامه ولس سره دې هیواد دغه کوچني یو فیصدي اقلیت یا د ثروتمنده نخبګانو فکري فاصله او د خلکو سره د هغوی اجتماعي لیریتوب هم دئ چي هغوی د خپلو ګټو په خاطر اصلاً د خلکو د رفاهیت په قصه کي ندي.

همدا وجه ده چي د وال سټریټ د اشغال جنبش د امریکا د فاسدي رهبرۍ د اجراآتو د نتایجو څخه کرکه لري چي په نړۍ کي و تازه شرایطو ته د رسېدو د پاره د مشارکت او ګډي همکارۍ روحیه نه مراعاتوي. د امریکا په سرمایه داري نظام باندي تهمت لګیږي چي ډیرو جګړو ته یې اور اچولی دئ، ډېر انسانان یې وژلي دي، د ژوندانه پر چاپیریال یې ظالمانه تعرض کړی دئ، د تبعیض، د نابرابریو او د داخلي او خارجي بې عدالتیو لوی عامل ګرځېدلی دئ. هغوی د انساني ارزشو او د ډیموکراټیکو اصولو داعادې غوښتنه کوي. هغوی ددې نظام په تعریف کي د سره کتنه غواړي.

د امریکا او نړۍ ولسونه په اوسني حالت دې نتجې ته رسیدلي دي چي د سرمایه دارۍ او د لیبرالي ډیموکراسۍ د ژوندانه شېوه د زوال پر لور روانه ده، ددې هیواد فاسد واکداران د دې حالت سره د چلند دپاره لکه څنګه چي د وال سټریټ د اشغال جنبش یې مطرح کوي لازمه آمادګي نلري ځکه نو دغه بحران ځان و خپل اوج ته رسوي او په نتیجه کي به په دې سیسټم کي به د سره غور کول یو حتمي ضرورت ګڼل کیږ ي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ